# د حضرت حبقُوق نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

د حضرت حبقُوق نبی پېغام د هغوئ دپاره د حوصلې باعث دے څوک چې په ايماندارئ سره او د زړۀ نه د خُدائ پاک تلاش کوی، او د هغوئ دپاره څوک چې په معاشره کښې د بدئ په حقله پرېشانه دی نو په دې کښې هغوئ سره خُدائ پاک لوظ کوی چې هغه به په خپل وخت او په خپلې طريقې سره اِنصاف کوی. خُدائ پاک يوه منصوبه لری او هغه هيڅکله ګناه نۀ نظر انداز کوی. يوه ورځ به حساب کِتاب کيږی او د بابل په شان بدعمله قوم به هم د خُدائ پاک د مقصد دپاره استعمال شی. په دويم باب او څلورم آيت کښې ليکلی دی چې، صادقان به په خُدائ د خپلې ايماندارئ په وجه ژوندی پاتې شی. دا يو زبردست لوظ دے چې حضرت حبقُوق نبی يې کوی، او د دې دعوئ ټول مؤمنان د خپل اذيت او مصيبت په وخت کښې کولے شی. د حفظ کولو دپاره ۱۹:۳ آيت ”قادر مطلق خُدائ زما طاقت دے. هغه زما پښې لکه د هوسئ د پښو په شان کوی، هغه ما د دې جوګه کوی چې په اوچتو ځايونو وګرځم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حبقُوق شکايت

١ ١ هغه پېغام چې حبقُوق پېغمبر ته په رويا کښې مِلاو
شو. ٢ ترڅو به، اے مالِکه خُدايه، زۀ د مدد دپاره چغې
وهم، خو تۀ جواب نۀ راکوې؟ زۀ درته د ظلم په حقله چغې
وهم، خو تۀ مينځ ته نۀ راځې؟ ٣ تۀ ولې ما دې ته جوړوې
چې بےاِنصافي وګورم؟ تۀ ولې بد برداشت کوې؟ تباهي او
ظلم، بحث مباحثې او اختلافات زما د وړاندې دی. ٤ ځکه
خو شريعت بےاثره دے او اِنصاف هيڅکله نۀ کيږی. بدعمله
خلق د صادقانو نه راتاو شی چې اِنصاف تالا والا کړی.

## د مالِک خُدائ جواب

٥ ”قومونو ته وګورئ او نظر پرې ساتئ، او حيران شئ.
ځکه چې زۀ به ستاسو د ژوند په دوران کښې يو داسې کار
وکړم چې تاسو به پرې يقين نۀ کوئ کۀ تاسو ته وئيلے شوی
هم وے. ٦ زۀ بابليان راوچتوم، چې ظالمان او بےرحمه
خلق دی. هغوئ په ټوله دُنيا کښې په مخه روان دی چې هغه
ځايونه قبضه کړی چې د دوئ نۀ دی. ٧ هغوئ يره او
دهشت خورونکی خلق دی، د هغوئ قانون د خپل ځانونو
دپاره دے او خپل عزت په خپله زياتوی. ٨ د هغوئ آسونه
د پړانګانو نه تېز دی، په شپه کښې د لېوۀ نه خطرناک دی. د
هغوئ په آسونو سوارۀ فوجيان په تېزئ سره راروان دی، د
هغوئ د آسونو سوارۀ د لرې لرې نه راځی. هغوئ لکه د باز
په شان غوټه وهلو له تېز الوځی. ٩ هغوئ ټول په ظلم
زياتی سره راځی. د هغوئ لښکرې لکه د صحرا د طوفان په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان مخکښې ځی او لکه د شګو په شان قېدیان غونډوی.
۱۰ هغوئ بادشاهان سپکوی او حکمرانانو له پېغور ورکوی.
هغوئ په ټولو قلعه بند ښارونو پورې خندا کوی، هغوئ به د
ښار نه ګېرچاپېره د خاورو ډېری جوړ کړی او قبضه به یې
کړی. ۱۱ بیا به هغوئ لکه د طوفان په شان د ځان سره هر
څهٔ جارُو کړی او تېر شی. دا ګناهګاران دی، د چا چې خپل
طاقت د هغوئ معبود دے.“

## د حبقُوق دویم شکایت

۱۲ اے مالِکه خُدایه، آیا تهٔ د ازل نه موجود نهٔ یې؟ زما پاکه
خُدایه، زما مقدس ذاته، مونږ به نهٔ مرو. اے مالِکه خُدایه، تا
هغوئ منتخب کړل چې حساب وکړی، اے ګټه، تا هغوئ
مقرر کړل چې سزا ورکړی. ۱۳ خو ستا سترګې بد کتلو
کښې ډېرې پاکې دی، تهٔ بد نهٔ شې برداشت کولے. بیا ولې تهٔ
دوکه باز برداشت کوې؟ بیا ولې تهٔ خاموش یې کله چې
بدعمله هغوئ لواړ تېروی څوک چې د هغوئ نه زیات صادق
دی؟ ۱۴ تهٔ انسانان د سمندر د کبانو په شان جوړوې، لکه
څنګه چې د هغوئ سمندری قبیلې حکمران نهٔ لری. ۱۵
بدعمله دشمن هغوئ ټول په کُنډو سره راویاسی، هغوئ په
خپل جال کښې رانیسی، هغوئ په خپل راښکوونکی جال
کښې راجمع کوی، او بیا هغه خوشحالی کوی او خوشحاله
وی. ۱۶ په دې وجه هغه د خپل ښکار د جالونو عبادت
کوی او په مخکښې ورته خوشبویۍ سوزوی، د خپل جال په
وجه هغه ښهٔ ژوند تېروی او د خوښې خوراکونه کوی. ۱۷
آیا هغه مسلسل خپل جال خالی کوی او قومونه په بېرحمۍ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره تباه کوی؟

## بیا مالِک خُدائ د حبقُوق دُعا ته جواب ورکول

٢ ١ زۀ به څوکیدارئ ته ودرېږم او په خپله به په برج
باندې وخېژم، زۀ به ګورم چې هغه به ما ته څۀ وائی، او چې
زۀ به د خپل شکایت څۀ جواب ورکوم.

## د مالِک خُدائ جواب

٢ بیا مالِک خُدائ د حبقُوق دُعا ته جواب ورکړو، "زۀ چې
څۀ تا ته په رویا کښې څرګندوم هغه په تختو باندې داسې
ولیکه چې هر څوک یې په آسانئ سره لوستلے شی. ٣ نو
ځکه رویا د مقرر وخت انتظار کوی، دا د آخرت په حقله
خبرې کوی او دا به دروغ ثابت نۀ شی. اګر کۀ دا وخت
اخلی، د دې انتظار وکړه، دا به خامخا پوره شی او ایسار به
نۀ شی. ٤ مغروره ته وګوره، هغوئ په خپل ځان یقین
ساتی، او د هغوئ ژوند کوږ دے. څوک چې صادق وی هغه
به په ایمان پائی.

## د بدعمله خلقو تباه کېدل

٥ په حقیقت کښې مال حال هغوئ دوکه کوی، هغوئ
مغروره دی او هیڅکله هم په آرام نۀ وی. ځکه چې هغوئ
دومره حرصناک دی څومره چې قبر وی او لکه د مرګ په
شان هیڅکله هم نۀ مړېږی، هغوئ خپل ځان ته ټول قومونه
راغونډوی او ټول خلق قبضه کوی." ٦ آیا هغوئ ټول به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ ته په خندا او سپکه توګه پېغور ورنهٔ کړی، او وائی به
چې، ”په هغهٔ دې افسوس وی څوک چې د غلا څيزونه جمع
کوی او خپل ځان په قلنګ اخستلو سره مالداره کوی.“ دا به
ترڅو پورې جاری وی؟ ۷ آيا ستا قرضدار به ناڅاپه
راوچت نهٔ شی؟ آيا هغوئ به بېدار نهٔ شی او تا به ونهٔ لړزوی؟
نو بيا به تهٔ د هغوئ ښکار شې. ۸ ځکه چې تاسو ډېر
قومونه لوټ کړی دی، کوم خلق چې ژوندی پاتې شی هغوئ
به تاسو لوټ کړی. ځکه چې تاسو د انسانانو وينه تويه کړې
ده، او تاسو مُلکونه او ښارونه او په دې کښې ټول خلق تباه
کړی دی. ۹ ”افسوس په هغه چا چې خپله بادشاهی په
ناجائزه ګټه جوړوی او خپله جاله په اوچت ځائ کښې
جوړوی، د دې دپاره چې د تباهئ د ګرفت نه بچ شی. ۱۰
تاسو د ډېرو خلقو د تباهئ منصوبه جوړه کړه، په دې طريقه
تاسو خپل قوم وشرمولو او خپل ژوند مو په کښې تباه کړو.
۱۱ د دېوالونو کاڼی به هم تا پسې چغې کړی، او په چت
کښې د لرګی تيرونه به هم فرياد کوی. ۱۲ افسوس په هغه
چا څوک چې په وينه تويېدو ښار آبادوی او په جرم باندې
ښار قائموی. ۱۳ آيا مالِک خُدائ ربُ الافواج دا نهٔ ده
مقرره کړې چې د خلقو محنت صرف د اور دپاره خشاک
دے، او قومونه خپل ځانونه هسې ستړی کوی؟ ۱۴ ځکه
چې زمکه به د مالِک خُدائ د جلال د عِلم نه داسې ډکه شی
لکه څنګه چې سمندر د اوبو نه ډک وی. ۱۵ افسوس په هغه
چا چې خپل ګاونډی له شراب ورکوی، د شرابو د مشک نه
ورته تر هغې پورې اچوی چې دوئ نشه شی، نو چې هغه د
هغوئ لغړ بدنونه وګوری. ۱۶ خو تهٔ به زر د جلال په ځائ د
شرم سره مخ شې. اوس ستا وار دے، وڅښه او ناسنته ځان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لغړ کړه. د مالِک خُدائ د ښې لاس نه جام تا ته راروان دے،
او سپکاوے به ستا جلال ختم کړی. ۱۷ کوم ظلم چې تا
لبنان سره وکړو هغه به تا له شکست درکړی، او کوم ظلم
چې تا په ځناورو وکړو هغوئ به تا نه بدل واخلی. تا د انسان
وینه تویه کړې ده، تا د زمکې په مخ کلی او ښارونه او په دې
کښې ټول مخلوق تباه کړی دی. ۱۸ د هغه بُت څۀ فائده ده،
چې انسان تراشلے وی؟ یا هغه مجسمه چې د دروغو تعلیم
ورکوی؟ ځکه چې څوک دا جوړوی هغه په خپل جوړ کړی
څیز اعتماد کوی، هغه جوړ کړی بُتان چې خبرې نۀ شی
کولے. ۱۹ افسوس په هغوئ څوک چې لرګی ته وائی،
ژوندے شه. یا بې‌ساه کاڼی ته وائی، پاڅه. آیا دا دوئ ته
هدایت ورکولے شی؟ دا په سرو او سپینو زرو پټ وی، خو
په کښې ساه نۀ وی. ۲۰ خو مالِک خُدائ په خپل مقدس
کور کښې دے، پرېږده چې ټوله زمکه د هغۀ په حضور کښې
خاموشه شی.“

## د حضرت حبقُوق دُعا

۳ ۱ د حبقُوق پیغمبر دُعا. ۲ اے مالِکه خُدایه، زۀ ستا
د شُهرت نه خبر یم، ستا د عجیبه کارونو په وجه زۀ په یره
کښې یم، اے مالِکه خُدایه. زمونږ د ژوند په ورځو کښې خپل
کار تازه کړه، زمونږ په وخت کښې هغه دوباره څرګند کړه.
او په خپله غصه کښې دې رحم یاد ساته. ۳ خُدائ پاک د
تیمان نه راروان دے، د فاران د غرونو نه هغه مقدس ذات
راروان دے. د هغۀ د شان او شوکت نه آسمانونه ډک شوی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی او د هغهٔ ثناء صِفت زمکه ډکه کړې ده. ۴ د هغهٔ شان
او شوکت لکه د راختونکی نمر په شان وو، او د هغهٔ د لاس
نه رڼاګاني ځلېدلې، په کومو کښې چې د هغهٔ قدرت پټ
انغښتے وو. ۵ وبا د هغهٔ نه مخکښې لاړه، او طاعون د
هغهٔ قدمونو پسې وو. ۶ هغه چې ودرېدو، او زمکه يې
خوځوله، هغهٔ کتل او قومونه يې لړزول. پخوانی غرونه ذرې
ذرې کېدل، او د ډېرې زمانې غونډۍ راغورزېدلې. د شروع نه
د هغهٔ تلل داسې دی. ۷ ما د کوشن د خلقو خيمې په
مصيبت کښې وليدلې، د ميديانيانو د اوسېدو ځائ په تکليف
کښې. ۸ آيا تهٔ سيندونو ته غصه وې، اے مالِکه خُدايه؟
ولې ستا قهر د نِهرونو خلاف وو؟ ولې تهٔ د سمندر خلاف
غصه وې کله چې تهٔ په خپلو آسونو او د فتحې په جنګی
ګاډو سور وې؟ ۹ تا خپله لينده راښکاره کړه، تا د ډېرو
غشو دپاره آواز وکړو. تا دريابونو سره زمکه په مينځ دوه
کړه. ۱۰ غرونو تهٔ وليدلې او ولړزېدل، د اوبو سيلابونه
ويهېدل، ژورو اوبو شور جوړ کړو، او خپلې چپې يې اوچتې
کړې. ۱۱ او څنګه چې ستا د نېزې ځلا وېرقېدله او ستا د
ويشتلے شوو غشو رڼا ته، په آسمان کښې نمر او سپوږمۍ
په خپل ځائ ودرېدل. ۱۲ په غصه کښې تهٔ په زمکه
وګرځېدلې، او په قهر کښې تا قومونه چخنې کړل. ۱۳ تهٔ د
خپلو خلقو بچ کولو دپاره بهر راغلې، چې خپل غوره کړے
شوی بچ کړې. تا د بدعمله وطن مشر چخنې کړل، تا هغوئ
د سر نه تر پښو پورې بربنډ کړل. ۱۴ هغوئ د خوشحالۍ نه
داسې چغې وهلې لکه چې غريبانان يې د څهٔ مخالفت نه بغير
لوټ کړل. تا په خپلو نېزو د هغوئ سرونه مات کړل کله چې
د هغهٔ جنګيالو زمونږ د تس نس کولو دپاره په مونږ حمله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړه. ۱۵ تا سمندر د خپلو آسونو د پښو لاندې کړو،
زوروَرې اوبهٔ دې په تاوېدو کړې. ۱۶ ما واورېدل او زړهٔ
مې په رپېدو شو، زما شونډې په هغه آواز سره په رپېدو
شوې، زما هډُوکی وراستهٔ شول، او زما پښې په لړزېدو
شوې. تر اوسه زهٔ د مصيبت د هغه ورځې په صبر سره
انتظار کوم چې په هغه قوم به راشی څوک چې په مونږ حمله
کوی. ۱۷ اګر کهٔ د اينځرو ونه غوټۍ نهٔ کوی او د انګورو په
بوټو کښې انګور نشته، اګر کهٔ د زيتُونو فصل ناکام شی او
پټی غله نهٔ پيدا کوی، اګر کهٔ په شپول کښې ګډې نشته او
څاروی په پنډال کښې نشته، ۱۸ خو بيا هم به زهٔ په مالِک
خُدائ خوشحاله شم. زهٔ به په خُدائ پاک په خپل
خلاصونکی خوشحاله شم. ۱۹ قادر مطلق خُدائ زما
طاقت دے. هغه زما پښې لکه د هوسۍ د پښو په شان کوی،
هغه ما د دې جوګه کوی چې په اوچتو ځايونو وګرځم. دا
دُعا د موسيقۍ د مشر دپاره ده چې د رباب د تارونو سره ده.

تاسو پوښتنې لرئ؟ 6699.700.807 1+
pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.